﴿وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِالصَّلَاةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا لَا نَسْأَلُكَ رِزْقًا نَحْنُ نَرْزُقُكَ وَالْعَاقِبَةُ لِلتَّقْوَى﴾

# اسانه لمونځ

**له جوامع الکلم**

**اسماءالحسنی او اسم عظم سره**

پښتو PDF کتابونو لپاره موږ درسره وګورئ !
زموږ ټیلګرام چینل لینک 🌐📚👉
https://t.me/AryanPashtoLibrary
واټساپ نمبر:
00971501455350
زموږ فیسبوک پاڼه 👉
آریان پښتو کتابتون

مولوي محمد غني فاروقي

بسم الله الرحمن الرحيم


د کتاب ځانګړنې:

| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | : | اسانه لمونځ |
| لیکوال | : | مولوي محمد غني فاروقي |
| خپرندوی | : | ګودر خپرندویه ټولنه |
| کمپوز او ډیزاین | : | صادق الله صادق |
| چاپ کال | : | ۱۳۹۱ ل. |
| چاپشمېر | : | ۲۰۰۰ ټوکه |
| د خپرونو لړ | : | (۲۲۷) |

ګودر کتاب پلورنځی، لانديني پوړ، اسحق زي مارکېټ، بزازی څلورلاري،
جلال اباد - meenasadiqs@gmail.com



د چاپ حقوق خوندي دي


(وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِالصَّلَاةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا لَا نَسْأَلُكَ رِزْقًا نَّحْنُ نَرْزُقُكَ وَالْعَاقِبَةُ لِلتَّقْوَىٰ﴿۱۳۲﴾ سورة طه)

# اسانه لمونځ

...ه خلوښتو قرآني دعاګانو، اسماء الحسنی او اسم اعظم سره)

لیکوال: مولوي محمد غني فاروقي


آریان پښتو کتابتون
+971501455350
ARYAN PASHTO LIBRARY
پښتو PDF کتابونو لپاره موږ درسره وځارئ !
زموږ ټیلګرام چینل لینک 🌐📚👇
https://t.me/AryanPashtoLibrary
واټساپ نمبر:
00971501455350
زموږ فیسبوک پاڼه 👇
آریان پښتو کتابتون

# د پیغمبرانو ډالۍ!

کلالیو لوستونکو!                    السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

زړه مې ډېر څه غواړي، چې د اسلام د دویمې بنا یا بنسټ په اړه یې ولیکم. خو نه بده مرغه چې له ډېرې مودې راهیسې مې دواړه سترګې دردمنې شو او ډېرو لیکلو ته مې نه پرېږدي

بیا هم د الله تعالی حمد و ثنا ده، د الله تعالی د لورېینې او پیرزوینې منندوی یم، چې د زړه، روح او بدن بنده ګي، د زړه رڼا، د مؤمن معراج، د روح ارام او تسکین، د الله تعالی په وړاندې د بنده ګۍ، عاجزۍ او کمینۍ په بڼه سر ښکته کول او اقرار، د خالق او مخلوق ترمنځ د مینې راز، د فطرت غږ، د زړه درمل، د انبیاء کرامو ډالۍ، د ټولو اسماني شریعتونو بنسټیز اصل، الله تعالی سره خبرې، عقیدوي مناجات، د الله تعالی وصیت، د عقیدې سرحد، د مؤمن او مشرک ترمنځ پوله، د قیامت د ورځې رڼا، د ایمان دلیل، د نجات لاره، د جنت ضمانت، د الله تعالی یاد، په یاد نمانځم

د بشریت ښکلي معلم محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم به ویل:((زما د سترګو یخوالی، په لمانځه کې دی))

هوکې: دوستانو المونځ یادوم، که څه هم چې ډېرو سترو عالمانو لمونځ او د هغې هر اړخیز مسایل او شکلونه د احادیثو په رڼا کې څېړلي. ما په ډېر لنډیز سره یوازې د لمانځه لومړنی آسانه بڼه د کاغذ پر سپین رخسار لوستونکیو ته ډالۍ کړې، تر هغې چې کوچنیان، تنکي ځلمیان، وړونه او خویندې ترې ګټه پورته کړي، که څوک په بشپړ دول لمونځ د احادیثو په رڼا کې زده کول غواړي، بیا دې د لمانځه په اړه لیکل شوي تفصیلي کتابونو ته مراجعه وکړي تمه ده، چې تنده به یې خړوبه شي

نور مو د انتظار شیبې نه غزوم، په دې هیله، چې نیمګړې هڅه مې د کایناتو د خالق د رضا له وړانګو برخمنه او اغېزمنه شي، که ناز مې منئ، د دعاګانو په لړ کې مې هېر نه کړئ

الله تعالی مو ونازوه!

محمد غني فاروقي

مسجد مېنه - جلالکوټ

آریان پښتو کتابتون
2022
ARYAN PASHTO LIBRARY

ډالۍ!

**خپلو دوو ګلالیو:**

**رومان فاروقي او نجلا فاروقي ته!**

**م. غ. فاروقي**

راځئ ملګرو زموږ په دې شاته پاته ټولنه کې ، کتاب لوستل عام کړو تر څو مو آینده نسل آزاد ، ارام او سوکاله ژوند ولري .!

په درنښت | آریان پښتو کتابتون

آریان پښتو کتابتون

## د ایمان ارکان

د ایمان ارکان شپږ دي: ۱. پر الله تعالی ایمان. ۲. پر ملائکو ایمان. ۳. پر کتابونو ایمان. ٤. پر رسولانو ایمان.٥. د اخرت (قیامت) پر ورځ ایمان. ٦. د الله تعالی له لوري د خیر او شر په تقدیر ایمان.

## توحید

توحید په درې ډوله دی:

۱. توحید ربوبیت: په دې ایمان لرل، چې الله تعالی د هر څیز خالق او پیداکوونکی دی، په هر شي کې خپلواک او اختیارمند دی د ټولو کایناتو پالونکی او له پیل نه تر پایه یې رسوونکی دی. او په دې کې له هغه سره هېڅ شریک نشته او نه یې چاته برخه سپارلې.

۲. توحید الوهیت: په دې ایمان لرل، چې الله تعالی په حقه سره د عبادت لایق او وړ دی او په دې کې د هغه څوک برخه وال نشته او دا د (لا اله الاالله) مانا هم ده. یانې له الله تعالی نه پرته بل څوک په حقه د عبادت وړ نه دی، پر همدې عقیده ټول عبادتونه، هغه که بدني وي، لکه: لمونځ، روژه، طواف او نور که مالي وي لکه: زکاة، نذر، صدقه او نور. د زړه عبادت وي، لکه اخلاص، مینه، وېره، تمه او نور... یا مالي او بدني مشترک وي، لکه: حج او جهاد.

یوازې د الله تعالی د رضا لپاره خاص کول ضروري او عقیدوي فرض دي او د بل چا لپاره په دغو عبادتونو کې برخه ورکول شرک او ناروا دي.



۳. توحید د اسماوو او صفاتو: په قرآن کریم او صحیح احادیثو کې، چې د الله تعالی کوم نومونه او صفتونه راغلي، پر هغو ټولو ایمان راوړل او هغه یوازې د الله تعالی لپاره، لکه څنګه، چې د هغه له شان سره مناسب دي، ثابتول.

داسې چې د هغې مانا بدله نه شي، بې مانا هم نه شي، څرنګوالی ورته بیان نه شي او د الله تعالی دپاره مثال هم پکې رانه شي، لکه الله تعالی وايي:(قُلْ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ۝ ٱللَّهُ ٱلصَّمَدُ۝ لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ۝ وَلَمْ يَكُن لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدٌۢ۝)

ژباړه:((ووایه هغه الله تعالی یو دی، الله تعالی بې حاجته دی، نه له ده نه څوک پیدا شوی او نه دی له چا نه پیدا شوی او نشته ده لره هم صفت هیڅوک.))

او په بل ځای کې وايي: (لَيْسَ كَمِثْلِهِۦ شَيْءٌ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْبَصِيرُ﴿۱۱﴾ سورت الشورى) یانې:((د الله تعالی په مثل هېڅ شی نشته او هغه لیدونکی او اورېدونکی دی.))

## د اسلام ارکان

د اسلام ارکان پينځه دي، لومړی او ستر رکن یې د (لااله الاالله محمد رسول الله) کلمه ده.

د دې کلمې مطلب ګواهي کول دي او د شرطونو له وضاحت سره سره یې په مانا پوهېدل دي.

(لااله) یانې له الله تعالی پرته د ټولو معبودانو نفې کول او یوازې (الا الله) د الله تعالی لپاره (چې یو دی او شریک نه لري) عبادت ثابتول.

شرطونه یې دا دي:

۱. علم، چې جهالت له منځه وړي. ۲. یقین، شک ختموي.

۳. اخلاص، چې د شرک جرړې وباسي. ٤. رښتیا، چې درواغ له منځه وړي او د نجات تضمین کوي. ٥. مینه چې کرکه او کینه له منځه وړي. ٦. ظاهري او باطني او انقیاد او پیروي، چې نافرماني ختموي. ۷. قبولیت، چې انکار ختموي.

۸. له الله تعالی پرته، چې د چا عبادت او له چانه مرسته غوښتل کېږي، اړیکې ورسره پرېکول او له هغوی څخه انکار کول.

د دې سره د (محمد رسول الله) د ګواهي کولو بیانول او د دې غوښتنه دا ده، چې څه رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي دي، د هغې تصدیق کول، د هغه د امر اطاعت کول او له څه یې چې منع کړي وي، له هغوی څخه ځان ساتل، په ټولیز ډول د هغه رسالت منل او د الله تعالی عبادت یوازې په هغه طریقه کول، چې الله تعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم ښودلې ده، له دې وروسته زده کوونکي ته، د اسلام نور احکام بیانول، چې: لمونځ، روژه، زکات او د طاقت لرونکي مسلمان لپاره د بیت الله حج کول دي.

## احسان

د احسان رکن دا دی، چې ته د الله تعالی عبادت په داسې توجو سره وکړې، لکه ته چې الله تعالی وینې او که ته یې نه وینې، نو هغه؛ خو تا وینې.



## اودس

لمونځ پرته له اودس نه، نه صحیح کېږي او پر پاکو اوبو اودس کول لازم او ضروري دي، پاکې اوبه هغې ته وایي، چې په خپل اصلي خلقت او بڼه پاتې وي، لکه د سمندر، کوهیانو، چینو او نهرونو اوبه.

پاملرنه: لږې اوبه یوازې د پلیتۍ او نجاست د ګډېدو له امله پلیتېږي او ډېرې اوبه هغه دي، چې د (۲۱۰) لېترو نه زیاتې وي، تر هغه وخت پورې نه پلیتېږي، تر هغې چې دغه نجاست د اوبو رنګ، خوند او یا یې بوی بدل کړی نه وي.

### استنجاء:

د مخې او یا د شا د لارو نه، په اوبو سره د نجاست لرې کولو ته استنجاء وایي.

او که له اوبو پرته په بل څه (لوټې، تشناب کاغذ...) سره وي، نو استجمار بلل کېږي.

او د استجمار (استنجاء) لپاره شرط دا دی، چې پر پاکو، مباحو، پاکوونکو شیانو وي او پر خوراکي توکو استنجاء کول روا نه دي، په درې کاڼو (لوټو او یا هغه څه چې ګرد پرې پروت وي) استنجاء کول مستحب دي، مګر د غټو او وړو میتیازو د وتلو په وخت کې استنجاء کول فرض دي.

کله چې یو انسان قضاء حاجت وکړي، نو په همدې حالت کې ورته پاتې کېدل روا نه دي، په ګودرونو، لارو، په سیورو، د مېوه دارو

ونو او بوټو لاندې قضاء حاجت کول نه دي پکار او قبلې ته مخ کول پکې هم ناروا دي.

د هغه چا لپاره چې د قضاء حاجت اراده لري، روا نه دي، چې داسې شیان له ځان سره بیت الخلا (تشناب یا کیناراب) ته یوسي، چې د الله تعالی ذکر پکې لیکل شوی وي، د قضاء حاجت پرمهال خبرې کول، پر ښي لاس د شرمگاه مسح کول او په آبادۍ کې قبلې ته مخ کول هم ناروا کارونه دي او په وینځلو او پاکولو کې یې د شمېر طاق والی او دغه راز پر اوبو او کاڼو دواړو استنجاء کول مستحب عمل دی.

## د اوداسه شرعي طریقه:

اودس او نور عبادتونه بې له نیت څخه نه صحیح کېږي، لکه څرنگه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وایي:

((یقیناً دار او مدار د عملونو په نیت سره دی او یقیناً د هر سړي لپاره هغه څه دي، چې نیت یې ورته کړی وي[1].))

د نیت کولو ځای زړه دی او پر ژبه به یې نه وایي، بیا به (بِسْمِ اللّٰهِ[2]) ووایي او درې ځلې به لاسونه ووینځي. بیا به په ښي لاس درې ځلې خولې ته اوبه واچوي او په کیڼ لاس به پوزې ته اوبه واچوي او بیا به درې ځلې مخ ووینځي، اندازه یې: د سر ویښتو له شنه کېدو ځای څخه نیولې د زنې تر لاندې برخې پورې، په اعتبار د اوږدوالي سره او د یوه غوږ له نرمۍ څخه نیولې د بل غوږ تر

1 صحیح بخاري

2 رواه احمد (۴۱۸/۱) و ابوداود (۱۰۱) و ابن ماجه (۳۹۷) و صححه



نرمۍ پورې په اعتبار د پلنوالي سره. د ږیرې خلالول سنت دي[1] او که رنگۍ (لړه) وي، نو بیا یې وینځل لازم او ضروري دي. بیا به خپل لاسونه تر څنگلو پورې درې ځلې ووینځي، بیا به د سر څلورمه برخه مسح کړي، د سر په مسح له تندي څخه نیولې تر څټه او بېرته تندي ته لاسونه را رسول سنت دي[2]. او دواړه مسواکۍ گوتې به د غوږونو په سوریو کې ننباسي او په غټو گوتو به د غوږونو ښکاره یا شاه لوری مسح کړي، د څټ مسح کول نشته، بیا به خپلې پښې درې ځلې تر ښنگریو پورې ووینځي.

بیا به دا دعا ووایي: (أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللّٰهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، اللّٰهُمَّ اجْعَلْنِي مِنَ التَّوَّابِينَ، وَاجْعَلْنِي مِنَ الْمُتَطَهِّرِينَ.[3])

**گټه:** رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: چا چې دا ذکر د اودس کولو نه وروسته ولوسته، نو د جنت اته واړه دروازې به ورته پرانیستل شي، په کومه دروازه چې دی غواړي، داخل به شي.

او دا دعا: (سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَنْ لا إِلَهَ إِلا أَنْتَ، أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ.[4])

**گټه:** رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: چاچې دا دعا ولوسته، نو دا به په یو کاغذ (پاڼه) ولیکل شي او هغه نه پرانیستل کېږي (مگر په ورځ د قیامت) یانې ده لره به د هغې بدله خامخا ورکول کېږي او په دې کې اشاره ده، چې دده اخره خاتمه به ښه وي.

1 رواه ترمذی (۳۱) و ابن ماجه (۴۳۰) و قال الترمذی: هذا حدیث حسن صحیح.

2 رواه البخاری (۳۷۱ کتاب الوضوء) و مسلم (۲۳۵ کتاب الطهارت).

3. السنن الصغری - (۱ / ۳۹)

4. سنن النسائي الکبری - (۲ / ۲۵)

**مسواک:**

رســول الله صــلی الله علیــه وســلم ویلي:((مســواک د خــولې پاکوونکی او د رب د خوشالۍ لامل ګرځي[۱].))

په نرم مسواک سره لکه د (اراک) د ونې په لرګي سره د خولې پاکول مستحب دي.

او د لمانځـه، تـلاوت، اودس، لـه خـوب څخـه د راپورتـه کېـدو، جومـات یـا کـور تـه د ننوتلـو پرمهـال او یـا د خـولې د پـاکولو لپـاره مسواک کارول سنت مؤکد دي.

**د اودس فرضونه:**

د اوداسه فرضونه څلور دي:

۱. د مخ وینځل.

۲. له ګوتو تر څنګلو پورې د لاسونو وینځل.

۳. د سر څلورمه برخه مسح کول.

۴. تر ښنګریو پورې د پښو وینځل.

**د اوداسه سنتونه:**

- نیت کول (د اودس لپاره).
- د اودس په پیل کې (بِسۡمِ اللّٰهِ) ویل.
- د مسواک کارول.
- تر مړوندو پورې لاسونه وینځل.
- خولې او پوزې ته درې ځلې اوبه اچول.
- د ږیرې او د پښو او لاسونو ګوتو خلالول.

۱ رواه احمد (۲۴۲۰۳) والشافعی(۲۳/۱) و ابن حبان(۱۰۲۷) وصححه



- د غوږونو مسح کول.
- د ښي غړي مخکې کول له کیڼ څخه.
- په ترتیب سره اودس کول.
- یو غړي پسې، سملاسي بل غړی وینځل.
- او له اودس څخه وروسته دعا ویل.

**د اوداسه ماتوونکي:**

۱. هغه څه چې د انسان له دوو لارو څخه ووځي، لکه: باد، تشې او ډکې میتیازې، مني او مذي (سپینې اوبه).

۲. له سره د عقل تلل، په خوب سره وي او که په بې هوښۍ سره وي، عادي سرګرداني یا ټالۍ کوم زیان نه رسوي.

۳. د بدن نه د څه شي وتل، لکه: وینه او نور....

٤. په ډکه خوله قی کول.

۵. له ښځې څخه د استحاض وینه راتلل.

٦. په لمانځه کې په زوره خندل.

۷. که د یوه سړي په پاکوالي کې یقین وي او په بې اودسۍ کې یې شک وي او یا د دې برعکس وي، نو عمل به پر یقین کوي، ځکه هغه مخکې والی دی، که بې اودسي مخکې وي، نو حکـم یـې د بـې اودسـۍ دی او کـه پـاکوالی مخکـې وي، نـو حکـم یـې د طهـارت یـا پاکوالي دی.

## غسل او د غسل فرضونه

هغه څیزونه، چې غسل پرې فرضېږي:

- په ویښه یا په خوب کې په خوند سره د مني وتل.
- له ښځې (مېرمنې) سره جماع، که څه هم انزال يې ونه شي.
- کله چې يو کافر يا مرتد ايمان راوړي.
- د حيض او نفاس د وينې له راتللو څخه وروسته.

### د غسل فرضونه:

درې دي:

۱. د خولې وينځل په داسې طريقې سره، چې اوبه د خولې ټولو برخو ته ورسېږي.

۲. په پوزه کې اوبه اچول.

۳. ټول بدن ته په داسې طريقې سره اوبه رسول، چې د ويښته په اندازه ځای هم وچ پاتې نه شي، د ويښتانو بېخونو او د نوکانو لاندې ځايونو ته اوبه رسول هم ضروري دي، که د ښځې د ويښتانو بېخونو ته اوبه رسېدلې، د کوڅيو سپړلو ته اړتيا نشته او که سړيو د ښځينه وو په څېر کوڅۍ پرېښې وې، د هر ويښته لمدول پرې فرض دي.

### د غسل سنتونه:

- په زړه کې نيت کول.
- بسم الله ويل.
- درې ځلې د لاسونو وينځل تر مړوندونو پورې.
- مسواک وهل.



- له غسل څخه مخکې اودس کول.
- پر سر درې ځلې اوبه اچول، داسې چې د ويښتو بېخونه لامده شي او بيا د هغې خلالول.
- پر ټول بدن درې ځلې اوبه تېرول.
- له ښي لوري پيلول.

د بې اودسۍ او جنابت په حالت کې درې څيزونه حرام دي:

۱. له پردې او غلاف پرته قرآن کريم ته لاس وروړل.

۲. لمونځ کول فرضي وي او که نفلي.

۳. د بيت الله (کعبې شريفې) طواف کول.

## د تيمم مسايل

### د تيمم د روا کېدو شرطونه:

- د اوبو نشتوالی.
- په پاکو، حلالو، خاورو باندې تيمم وهل، چې ګرد لرونکی وي او سوزېدلی نه وي.

### د تيمم مسنونه طريقه:

رسول الله صلى الله عليه وسلم وايي: د تيمم دوه ضربونه دي، يو د مخ لپاره او بل د لاسونو لپاره، تر څنګلو پورې[1].

طريقه يې دا ده، چې لومړی به په زړه کې نيت کوي، بيا به بسم الله وايي، له دې وروسته به پر دواړو لاسو پاکه ځمکه ووهي او مخ

۱ رواه دار القطني (۱۸۷/۱) والبيهقي (۲۰۷/۱) والحاكم (۱۸۰/۱).

به پرې مسح کړي، بیا به د دویم ځل لپاره څمکه ووهي او لاسونه به تر څنګلو پورې مسح کړي.

بله طریقه یې دا ده، چې لومړی به په زړه کې نیت کوي، بیا به بسم الله وایي، بیا به یو ځل پر دواړو لاسو پاکه څمکه ووهي او لږ څنډ به ورکړي، بیا به پرې خپل مخ او ورغوي مسح کړي. یانې د ښي ورغوي شاه به د کیڼ ورغوي له دننه لوري څخه مسح کړي، دغه راز د کیڼ ورغوي شاه به د ښي ورغوي په دننه طرف باندې مسح کړي[۱].

**د تیمم ماتوونکي:**

۱. هر هغه څیز، چې اودس ماتوي.

۲. د اوبو پیداکېدل، د هغه چا لپاره چې د اوبو د نشتوالي له امله یې تیمم وهلی وي.

۳. د عذر زایله کېدل، لکه څوک چې د ناروغۍ له امله تیمم وکړي او بیا روغ شي.

**د ناپاکۍ یا نجاست پاکوالی:**

نجاست یا ناپاکي په دوه ډوله ده:

۱. عیني: هغه ناپاکي ده، چې پاکول یې شوني نه وي، لکه: خنزیر، چې هرڅومره یې ووینځې، نه پاکېږي.

۲. حکمي: هغه ناپاکي ده، چې په عارضي ډول پر هغه ځای راغلې وي، چې اصل یې پاک وي، لکه: کالي، څمکه... .

۱ رواه مسلم(۳۶۸).



**یادونې:**

- وینې، زوې او نوونه ناپاک دي، مګر د لمانځه په حالت کې د پاکو حیواناتو لړه او معمولي وینه څه پروا نه کوي.
- د دوو شیانو وینه پاکه ده: د ماهي او کومه وینه، چې د حلال شوي مال په غوښه او یا د هغې په رګونو کې پاتې شوې وي.
- هغه غوښه چې د ژوندي حیوان نه غوسه شوې وي، دغه راز علقه یانې ټینګه وینه، چې په رحم کې وي او یا مضغه یانې هغه حمل چې څلوېښت ورځې وروباندې تېرې شوې وي، دا ټول ناپاک دي.
- د ناپاکۍ د لرې کولو نیت ضروري نه دی، که باران یې پاک کړي، نو هم پاک دی.
- د ناپاک څیز په لاس سره مسح کول او یا پرې ګرځېدل اودس نه ماتوي، مګر د هغې لرې کول فرض دي، دغه راز هغه ناپاکي او پلیتي چې کالیو یا بدن ته رسېدلې وي، د هغې پاکول هم فرض دي.
- ناپاکي او پلیتي د لاندې شرطونو موافق صفا کېدای شي:

۱. پر پاکو اوبو د هغه وینځل.

۲. که چېرته پر وینځلو پلیتي نه پاکېږي، نو بیا به یې مښلو باندې صفا کوي.

۳. که چېرته د سپي نجاست او ناپاکي وي، نو هغه به اووه ځلې وینځي او اتم ځل به یې پر خاورې، شګې یا صابون وینځي.

٤. که چېرې دغه ناپاکي مایع وي، لکه: تشې میتیازې او یا د وینې په شکل کې وي، نو هغه به په اوبو سره پاکوي، تر دې چې د نجاست بوی او رنګ ختم شي او که جسم لرونکې وي، لکه: ډکې میتیازې، نو بیا به د هغې ماده او اثرات حتمي له منځه وړي.

٥. که چېرته د ناپاکۍ پاکېدل له اوبو غیر په بل څه ممکن نه وو، نو بیا یې پر اوبو وینځل فرض دي.

٦. که چېرته د ناپاکۍ ځای ورک شي، نو بیا به هغه شکمن ځای ټول وینځل کېږي، تر دې چې ناپاکي په یقیني توګه له منځه ولاړه شي.

٧. څوک چې ویده شي او یا تري باد لاړ شي، نو استنجاء کول پرې فرض نه ده، ځکه هوا یا باد پلیتي نه ده، که څه هم د لمانځه اراده ولري، نو یوازې اودس کول پرې فرض دي.

## اذان او اقامت

(اللّهُ أَكْبَرُ، اللّهُ أَكْبَرُ، اللّهُ أَكْبَرُ، اللّهُ أَكْبَرُ (څلور ځلې) أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّهُ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّهُ (دوه ځلې) أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللّهِ، أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللّهِ(دوه ځلې) حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ، حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ(دوه ځلې) حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ، حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ(دوه ځلې) اللّهُ أَكْبَرُ، اللّهُ أَكْبَرُ(دوه ځلې) لَا إِلَهَ إِلَّا اللّهُ(یو ځلې).[1])

یادونه: د سهار په اذان کې له (حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ) څخه وروسته دوه ځلې د (الصَّلَاةُ خَيْرٌ مِنَ النَّوْمِ[2]) ویل سنت دي.

۱ سنن ابن ماجه(۱/ ۲۳۲).
۲ سنن الترمذي ت بشار(۱/ ۲۷۱).



د جمعي د لمانځه لپاره اقامت کول سنت طریقه ده، اقامت هم د اذان په څېر ټاکلي کلمات لري، یوازې له اذان سره دومره توپیر لري، چې په اقامت کې به له (حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ) څخه وروسته دوه ځلې (قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ[1]) کلمات وایي او نور ټول کلمات یې د اذان د کلمات په څېر دي.

**د اذان نه وروسته دعا:**

اَللّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ بِحَقِّ هَذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ، وَالصَّلَاةِ الْقَائِمَةِ آتِ مُحَمَّدًا الْوَسِيلَةَ وَالْفَضِيلَةَ، وَابْعَثْهُ مَقَامًا مَحْمُودًا، الَّذِي وَعَدْتَهُ إِنَّكَ لَا تُخْلِفُ الْمِيعَادَ.[2]

**یادونه:** له اذان نه وروسته درود ویل هم په صحیح احادیثو کې راغلي دي، درود نه وروسته به پورتنۍ دعا لولئ.

**د آذان مسنون ځواب:**

سنت طریقه دا ده، چې د اذان اورېدونکی به هغه کلمات وایي، کوم چې مؤذن یې وایي، یوازې د(حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ) او(حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ) ځواب کې به(لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّهِ) وایي.[3]

۱ سنن الترمذي ت بشار(۱/ ۲۷۱).
۲. السنن الصغری-(۱/ ۱۰۱)
۳. مسند الشافعي ترتیب السندي (۰/ ۲۰۴)

## د لمانځه طريقه

کله چې د لمانځه اراده وکړئ، نو د ودرېدو (قيام) په حالت کې به (الله اکبر) وايي، امام به ټول تکبيرونه مقتديانو ته د اورېدو په پار په جهر سره وايي او مقتديان به د امام تکبير کولو نه وروسته په خفيه ډول له ځان سره تکبير وايي.

د (الله اکبر) له ويلو سره به دواړه لاسونه تر غوږونو پورې اوچت کړي[1] او ښي لاس به په کيڼ لاس کېږدي[2] او د سجدې ځای ته به ګوري، يو او بل اړخ ته ليدل ناروا دي[3] او پر دې الفاظو:(سُبْحَانَکَ اللّهُمّ وَبِحَمْدِکَ وَتَبَارَکَ اسْمُکَ وَتَعَالی جَدُّکَ وَلَا اِلَهَ غَيْرُکَ)[4] به لمونځ پيل کړي.

بيا به (أَعُوذُ بِاللّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ[5] او بِسْمِ اللّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ[6]) ووايي. او دا ټول به په خفيه يانې پټ ډول وايي.

بيا به سورت فاتحه پيل کړي:(اَلْحَمْدُ لِلّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ﴿٢﴾الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ﴿٣﴾مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ﴿٤﴾إِيَّاكَ نَعْبُدُ وإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ﴿٥﴾اهْدِنَا الصِّرَاطَ

---

١ رواه مسلم(٣٩١) و ابوداود (٧٤٥) والنسائی (٨٧٩) وابن ماجه(٧٠٩).
٢ رواه مسلم(٤٠١) کتاب الصلاة
٣ رواه البخاري(ټوک:١، مخ:١٠٤).
٤ رواه اصحاب السنن و صححه الحاکم وقال الالبانی رحمه الله هذا حديث صحيح.
٥ رواه احمد وابوداود و ابن حبان فی الصحيحه
٦ رواه مسلم(مخ: ٣٩٩).



الْمُسْتَقِيمَ﴿٦﴾صِرَاطَ الَّذِينَ أَنعَمتَ عَلَيهِمْ غَيرِ المَغضُوبِ عَلَيهِمْ وَلاَ الضَّالِّينَ﴿٧﴾)[1].

په جهري لمونځ کې پر مقتدي د سورت فاتحې لوستل نشته[2].
او په سري (پټ يا خفيه) لمونځ کې به سورت فاتحه خامخا لولي.

بيا به د قرآن کريم هغه سورت وايي، چې ده ته اسانه وي او امام به د سهار، ماښام او ماسخوتن لمونځونو لومړني دوه رکعاتونه په جهر سره وايي او په نورو لمونځونو کې به قرائت په پټه وايي.

يادونه: د قرآن کريم د عثماني ترتيب موافق د سورتونو لوستل مستحب دي او د هغې سرچپه (مخکې سورت وروسته او وروسته سورت مخکې کول مکروه دي) او په يو سورت کې د کلماتو او يا د اياتونو مخکې کول يا وروسته کول حرام او ناروا کار دی.

بيا به (اللّهُ أَکْبَرْ) ووايي او رکوع به وکړي او د رکوع په حالت کې به لاسونه پر زنګنو ږدي، لکه هغه يې چې نيولي وي، ګوتې به يې خورې يانې بېلې بېلې وي، ملا (شا) به يې اواره يانې له سر سره به برابره وي، بيا به لږ تر لږه درې ځلې (سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيْم[3]) وايي.

بيا به سر اوچت کړي او (سَمِعَ اللّهُ لِمَنْ حَمِدَه) به ووايي.

کله چې په اعتدال سره ودرېده، نو (رَبّنَا لَکَ الْحَمْد) به ووايي.

---

١ رواه البخاري(ټوک:١، مخ:١٠٥)، مسلم(مخ:٣٩٤).
٢ رواه احمد (ټوک:٢، مخ:٤٢٠) وابوداود (مخ:٢٠٤) والنسائی(ټوک:٢، مخ:١٤١) و ابن ماجه(مخ:٨٤٢).
٣ رواه مسلم (مخ:٢٧٧) و ابوداود (مخ:٨٧١) والنسائی (ټوک:٣، مخ:٢٢٦) والترمذی(ټوک:٢، مخ:٤٩)

يادونه: د (رَبَّنَا لَکَ الْحَمْد) د ويلو وخت له رکوع څخه وروسته د قومې حالت دی، يانې کله چې د رکوع نه وروسته ودرېد، نو بيا به دا دعا وايي او تر هغې پورې چې نېغ ودرېدلی نه وي، دا دعا به نه وايي[۱].

بيا به سجدې ته ځي او (اللهُ اَكْبَرُ) به وايي. خپلې متې به له اړخونو څخه، ګېډه به له ورنونو څخه بېله ساتي او لاسونه به د اوږو برابر ږدي، بيا به لږ تر لږه درې ځلې (سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلَى[۲]) وايي.

يادونه: پر اوو اندامونو سجده کول فرض دي، د دواړو پښو ګوتې، زنګنونه، لاسونه، تندی او پوزه[۳] او که څوک په قصدي توګه د ځينې اندامونو سجده پرېږدي يانې په سجده کې يې پر ځمکه ونه لګوي، لمونځ يې فاسدېږي او که په عذر سره وي، بيا نه فاسدېږي او په سجده کې د دواړو پښو يوځای کول سنت طريقه ده.

بيا به سر اوچت کړي، په داسې حالت کې چې (اللهُ اَكْبَرُ) به وايي او کېني به او د کېناستلو صحيح طريقه دا ده، چې د کيڼې پښې خورول يا څملول او بيا پر هغې کېناستل او د ښي پښې ودرول او قبلې ته د ګوتو ماتول.

د سجدو په منځ يانې جلسه کې به درې ځلې (رب اغفرلي[۴]) وايي او له دې دعا پرته نورې دعاګانې هم شته.

۱ رواه البخاري (توک:۱، مخ: ۱۰۹) ومسلم (مخ: ۳۹۲).
۲ رواه مسلم (مخ: ۲۷۷).
۳ رواه البخاري (توک:۱، مخ: ۱۱۳) و مسلم (مخ: ۴۹۰).
۴ سنن النسائی (توک: ۱، مخ: ۲۴۷).



بيا به د لومړۍ سجدې په څېر دويمه سجده کوي، بيا به د تکبير په ويلو سره سر اوچت کړي او وبه درېږي او دويم رکعت به هم د لومړي په شان وکړي، خو دويم او نور رکعاتونه به له سورت فاتحې څخه پيلوي[۱].

يادونه: د سورت فاتحې د ويلو ځای قيام دی او که د نېغ ودرېدلو نه يې مخکې پر قرائت ويلو پيل وکړ، نو بيا به يې اعاده کوي يانې دويم ځل به يې وايي او که د قيام په حالت کې اعاده ونه کړي، نو لمونځ يې باطل دی.

کله چې له دوو رکعتونو څخه فارغ شي: نو بيا به د لومړي تشهد لپاره په داسې حالت کې کېني، چې کيڼه پښه به يې غوړولې وي، ښی لاس به پر ښي ورانه او کيڼ لاس به پر کيڼ ورانه کېږدي، د ښي لاس خنصر (کچې) او بنصر (کچې ګوتې ته نېږدې) ګوتې به راټولې کړي، د لوی او منځنۍ ګوتو نه به د کړۍ شکل جوړ کړي او په سُبابه (شهادت) ګوته به اشاره کوي[۲] او (اَلتَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ اَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِاللهِ الصَّالِحِيْنَ، اَشْهَدُ اَنْ لَا اِلَهَ اِلَّا اللهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ[۳]) به ووايي.

۱ رواه مسلم (مخ: ۵۹۹) و الطحاوي (توک:۱، مخ: ۱۳۸).
۲ رواه مسلم.
۳ رواه البخاري (توک:۱، مخ: ۱۱۵) ومسلم (مخ: ۴۰۲).

بیا به په درې رکعاتیز (ماښام) او څلور رکعاتیزو (ماسپښین، مازیګر او ماسخوتن) لمونځونو کې به د (اللهُ اَکْبَرْ) په ویلو سره ودرېږي او نور لمونځ به هم په همدې طریقې سره ادا کړي.

د فرضي لمونځونو له لومړیو دوه رکعاتونو پرته، به په هر رکعت کې یوازې سورت فاتحه وایي.

له دې وروسته به د وروستي تشهد ویلو لپاره کېني، تشهد به تر پایه ووایي او بیا به دا درود: (اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰى اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ. اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰى اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ.[1]) ووایي.

له درود ویلو وروسته به هغه دعاګانې ووایي، کومې چې په احادیثو کې راغلي دي، لکه: (اللهم رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً، وَفِي الآخِرَةِ حَسَنَةً، وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ.[2])

یا دا دعا: (اَللّٰهُمَّ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي ظُلْمًا كَثِيرًا، وَلَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلاَّ أَنْتَ، فَاغْفِرْ لِي مَغْفِرَةً مِنْ عِنْدِكَ، وَارْحَمْنِي إِنَّكَ أَنْتَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ.[3])

او یا دا: (اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، وَمِنْ عَذَابِ النَّارِ، وَمِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ، وَمِنْ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ.[4]).[5]

---

۱ رواه البخاري (ټوک:۱. مخ: ۴۷۷) و مسلم (مخ: ۴۰۶).
۲ صحيح البخاري (۲/ ۲۸).
۳. السنن الصغرى - (۱/ ۱۵۳)
۴ صحيح البخاري (۲/ ۹۹).
۵ یادونه: نورې قرآني دعاګانې او کومې چې په احادیثو کې راغلي. هم له درود څخه وروسته لوستلای شي.



بیا به ښي لوري ته سلام وګرځوي او داسې به وایي: (اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ الله) بیا کیڼ لوري ته سلام وګرځوي او همدا الفاظ به تکرار کړي.

د هر فرض لمانځه نه وروسته به لومړی یو ځل (الله اکبر)، درې ځلې (اسغفرالله) او یو ځل به (اَللّٰهُمَّ اَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْكَ السَّلَامُ تَبَارَكْتَ يَا ذَا الْجَلَالِ وَالْاِكْرَامِ) وایي.

له دې وروسته به هغه دعاګانې او ذکرونه ووایي، کومې چې د احادیثو په کتابونو کې راغلي دي، لکه: کعب بن عجره رضی الله تعالی عنه ویلي، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: د هر فرض لمانځه نه وروسته د لوستلو څو کلمات دي، چې د هغې ویونکی، یا یې وویل: د هغې کوونکی به (د ثواب حاصلولو نه محروم نه شي) او هغه کلمات دا دي:

سُبْحَانَ اللّٰهِ ۳۳ ځلې.
اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ۳۳ ځلې.
اَللّٰهُ أَكْبَرُ ۳٤ ځلې.

**یادونه**: حدیث کې دېته معقبات له دوو وجو نه ویل شوي، لومړی دا چې دا د لمانځه نه وروسته ویل کېږي، دویم د یو بل نه وروسته ویل کېږي، یانې په یو ځل په طریقه د جمعه سره نه ویل کېږي.

لس لس کرته ویل یې هم ډېر اجر لري، چې د پینځو لمونځو حساب سره مجموعه نېکۍ (۱۵۰۰) پینځلس سوه کېږي، څکه یوه نېکي په لس چنده ده او چې ۳۳ ځل یې ووایي، نو مجموعه نېکۍ

پینځه زره شوي.[۱]

لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ اللَّهُمَّ لَا مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ وَلَا مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ وَلَا يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ[۲]

**یادونه**: رسول الله صلی الله علیه وسلم به د هر فرض لمانځه نه وروسته دا دعا کوله.

**له هر لمانځه وروسته معوذات ویل**:

قُلْ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ۝ ٱللَّهُ ٱلصَّمَدُ۝ لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ۝ وَلَمْ يَكُن لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدٌۢ۝

قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلْفَلَقِ۝ مِن شَرِّ مَا خَلَقَ۝ وَمِن شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ۝ وَمِن شَرِّ ٱلنَّفَّٰثَٰتِ فِى ٱلْعُقَدِ۝ وَمِن شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ۝

قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ۝ مَلِكِ ٱلنَّاسِ۝ إِلَٰهِ ٱلنَّاسِ۝ مِن شَرِّ ٱلْوَسْوَاسِ ٱلْخَنَّاسِ۝ ٱلَّذِى يُوَسْوِسُ فِى صُدُورِ ٱلنَّاسِ۝ مِنَ ٱلْجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ۝[۳]

عقبه بن عامر رضی الله تعالی عنه ویلي: رسول الله صلی الله علیه وسلم ماته حکم کړی دی، چې د هر لمانځه وروسته معوذات ولولم.[٤]

**یادونه**: علامه شوکاني رحمه الله علیه وایي: معوذات نه مراد اخري دوه سورتونه دي، مګر په حدیث د ابي امامه کې داسې نقل دي: (چې [قُلْ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ] چا لمانځه نه وروسته ولوسته جنت ته له

۱. الحق الصریح ۴۳۲-۴ج.
۲. صحیح البخاري ت-(۲ / ۲۵۵) الحق الصریح-۴ج.
۳. القرآن الکریم- سورة الاخلاص- سورة الفلق- سورة الناس.
۴. الحق الصریح ۴۴۳مخ ۴ج



ننوتلو نه به یې له مرګه پرته بل څیز منع نه کړي، په همدې اساس [قُلْ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ] هم په معوذاتو کې داخل دی) دا درې سورتونه په ډېرو ځایونو کې لوستلی شي؛ لکه:

۱) په سبا- بېګا کې.

۲) د مصیبت په وخت.

۳) د مریض د عیادت (پوښتنې) په وخت کې (دم دی).[۱]

د سهار او ماسخوتن له لمونځونو څخه وروسته درې درې ځلې د دې سورتونو ویل، په احادیثو کې راغلي.

**د هر لمانځه وروسته اية الکرسي ویل**:

ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلْحَىُّ ٱلْقَيُّومُ لَا تَأْخُذُهُۥ سِنَةٌ وَلَا نَوْمٌ لَّهُۥ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ مَن ذَا ٱلَّذِى يَشْفَعُ عِندَهُۥٓ إِلَّا بِإِذْنِهِۦ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَىْءٍ مِّنْ عِلْمِهِۦٓ إِلَّا بِمَا شَآءَ وَسِعَ كُرْسِيُّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَلَا يَـُٔودُهُۥ حِفْظُهُمَا وَهُوَ ٱلْعَلِىُّ ٱلْعَظِيمُ۝[۲]

**ګټه**: علي رضی الله تعالی عنه ویلي: (ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه د منبر په دې لرګیو واورېدل، چې ویل یې: چا چې د هر لمانځه نه وروسته اية الکرسي ولوسته، هغه به جنت ته له ننوتلو څخه، له مرګ پرته هیڅ شی منع نه کړي او څوک چې اية الکرسي د خوب ځای ته د تللو په وخت کې ووایي، نو الله تعالی به ده ته دده په کور او د ګاونډي په کور او نور کورونه چې دده نه چاپېره دي امن ورکړي.)

۱. الحق الصریح ۴۴۳مخ-۴ج.
۲. سورة البقرة. الایة ۲۵۵.

حافظ ابن القیم رحمه الله علیه ویلي: ځیني علماء دا حدیث صحیح ګڼي او ځیني یې ضعیف ګڼي، مګر ددې لپاره ډېرې طریقې دي، چې ټولې راجمع شي، نو دلالت کوي، چې ددې حدیث لپاره اصل شته او موضوعي (له خانه جوړ شوی) نه دی او وایي چې شیخ الاسلام بن تیمیة رحمه الله وایي، چې ما آیة الکرسي د هېڅ لمانځه نه وروسته نه ده پرې ایښې.

اَللّٰهُمّ إِنّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ الْبُخْلِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ الْجُبْنِ وَأَعُوذُ بِكَ أَنْ أُرَدَّ إِلَى أَرْذَلِ الْعُمُرِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الدُّنْيَا وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ.[1]

**یادونه:**

سعدبن ابي وقاص رضی الله تعالی عنه نه روایت دی: هغه به زامنو ته ددې کلماتو داسې تعلیم ورکاوه؛ لکه چې استاد شاګردانو ته تعلیم ورکوي او ویل یې، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به د فرض لمانځه وروسته په دې سره پناهي غوښتله.

۱.صحیح البخاري ت (۱۲/ ۱۴۰)



## د لمانځه اسانه او روانه ژباړه

| |
|---|
| اللّٰهُ اَکْبَرْ |
| الله تعالی ډېر لوی دی. |
| سُبْحَانَکَ اللّٰهُمّ – وَبِحَمْدِکَ |
| ای الله تعالی! ستا ذات پاک دی- حمد او ستاینې تا لره دي. |
| وَتَبَارَکَ اسْمُکَ – وَتَعَالٰی جَدُّکَ |
| او ستا نوم مبارک دی- او لوی دی شان ستا. |
| وَلَا اِلَهَ – غَیْرُکَ. |
| نشته لایق د بنده ګۍ – بې له تانه. |
| أَعُوذُ بِاللّٰهِ – مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ. |
| پناه غواړم په الله تعالی سره - له شیطان رټل شوي نه. |
| بِسْمِ اللّٰهِ –الرَّحْمَنِ– الرَّحِيمِ. |
| پیل کوم د الله تعالی په نوم - چې ډېر مهربان -زیات رحم لرونکی دی. |
| اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ |
| ټولې ستاینې او صفتونه یوازې الله تعالی ته لره دي. |
| رَبِّ اَلْعَالَمِينَ. |
| چې پالونکی د مخلوقاتو دی. |

| |
|---|
| ٱلرَّحۡمَـٰنِ ٱلرَّحِيمِ. |
| زیات مهربانه او بښونکی دی. |
| مَـٰلِكِ يَوۡمِ ٱلدِّينِ. |
| باچا د ورځې د جزا دی. |
| إِيَّاكَ نَعۡبُدُ–وإِيَّاكَ نَسۡتَعِينُ. |
| خاص تاته عبادت کوو - او خاص له تا مرسته غواړو. |
| ٱهۡدِنَا ٱلصِّرَٰطَ ٱلۡمُسۡتَقِيمَ. |
| وښایه موږ ته سمه لار. |
| صِرَٰطَ ٱلَّذِينَ– أَنۡعَمۡتَ – عَلَيۡهِمۡ. |
| لاره د هغو کسانو - چې انعام کړی تا - پر هغوی |
| غَيۡرِ ٱلۡمَغۡضُوبِ عَلَيۡهِمۡ |
| نه د هغو کسانو لاره، چې غضب ورباندې شوی |
| وَلَا ٱلضَّآلِّينَ. |
| او نه د هغه کسانو لاره، چې لار ورکي دي. |
| آمين |
| ای الله! زموږ دعا قبوله کړې. |

له سورت فاتحې وروسته به د قرآن کریم کومه برخه یا سورت چې ورته اسانه او یاد وي ولولي، لکه سورت اخلاص:(قُلۡ هُوَ ٱللَّهُ



أَحَدٌ۝ ٱللَّهُ ٱلصَّمَدُ۝ لَمۡ يَلِدۡ وَلَمۡ يُولَدۡ۝ وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدٌ۝) ژباړه:((ته ووایه هغه الله تعالی یو دی، الله تعالی بې حاجته دی، نه له ده نه څوک پیدا شوی او نه دی له چا نه پیدا شوی او نشته ده لره هم صفت هیڅوک.)).

| |
|---|
| سُبۡحَانَ رَبِّيَ الۡعَظِيۡم. |
| پاکي ده زما رب لره، چې لوی دی. |
| سَمِعَ اللّٰهُ – لِمَنۡ حَمِدَهُ. |
| اوري الله تعالی - څوک چې ثنا وايي. |
| رَبَّنَا لَکَ الۡحَمۡد. |
| ای ربه زموږ! خاص تا لره ستاینې دي. |
| سُبۡحَانَ رَبِّيَ الۡأَعۡلَى. |
| پاکي ده رب زما لره، چې دې لوی شان والا دی. |
| أَلتَحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ، |
| ټول قولي، بدني او مالي عبادتونه خاص الله لره دي. |
| أَلسَّلَامُ عَلَيۡکَ أَيُّهَا النَّبِيّ وَرَحۡمَةُ اللهِ وَبَرَکَاتُهُ، |
| سلام، رحمت، برکت د الله تعالی دې پرتا، ای پیغمبره! |
| أَلسَّلَامُ عَلَيۡنَا – وَعَلَى عِبَادِاللهِ الصَّالِحِيۡن، |
| سلام دې وي پر موږ - او پر بنده ګانو د الله، چې نېکان دي. |

| |
|---|
| أَشْهَدُ أَنْ لَا اِلَهَ اِلَّا اللهُ، |
| ګواهي کوم، چې نشته لایق د بنده ګۍ، پرته له الله نه. |
| وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْ لُهُ. |
| او ګواهي ورکوم، چې محمد د هغه بنده او رسول دی. |
| أَللَّهُمَّ صَلِّ عَلى مُحَمَّدٍ وَعَلَى اٰلِ مُحَمَّدٍ، |
| ای الله! رحمت نازل کړې پر محمد او پر اولاد د محمد. |
| كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى اِبْرَاهِيْمَ وَعَلَى اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ، |
| لکه څنګه دې، چې رحمت نازل کړی و، پر ابراهیم او پر اولاد د ابراهیم. |
| اِنَّكَ – حَمِيْدٌ – مَّجِيْدٌ. |
| یقیناً ته! - ستایلی شوی – لوی یې. |
| أَللَّهُمَّ بَارِكْ عَلى مُحَمَّدٍ وَعَلَى اٰلِ مُحَمَّدٍ، |
| ای الله! برکت نازل کړه پر محمد او پر اولاد د محمد. |
| كَمَا بَارَكْتَ عَلَى اِبْرَاهِيْمَ وَعَلَى اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ، |
| لکه څنګه دې، چې برکت نازل کړی و، پر ابراهیم او پر اولاد د ابراهیم. |
| اِنَّكَ – حَمِيْدٌ – مَّجِيْدٌ. |
| یقیناً ته! - ستایلی شوی – لوی یې. |
| اَللَّهُمَّ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً |
| ای ربه زموږ! راکړې موږ لره په دنیا کې نېکي. |



| |
|---|
| وَفِي الآخِرَةِ حَسَنَةً |
| او په اخرت کې نېکي. |
| وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ. |
| او وساتې موږ د عذاب له اور څخه. |
| اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ. |
| سلام او د الله تعالی رحمت دې پر تاسو وي. |

**د لمانځه شرطونه:**

د لمانځه د وجوب شرطونه درې دي:

۱. اسلام. ۲. تمیز (توپیر). ۳. عقل.

**د لمانځه د ادا او صحت شرطونه:**

۱. د وخت پېژندل. ۲. له بې اودسۍ څخه پاکوالی.

۳. له حقیقي پلیتۍ څخه پاکوالی. ٤. د عورت پټول.

۵. قبلې ته مخ کول. ٦. نیت کول (په زړه کې).

۷. ترتیب. ۸. پرله پسې والی. ۹. د خبرو پرېښودل.

۱۰. د هغې کړنې پرېښودل، چې د لمانځه له جنس نه، نه وي.

۱۱. خوراک او څښاک پرېښودل[۱].

**د لمانځه اتفاقي فرضونه یا ارکان:**

۱. تکبیر تحریمه. ۲. قیام (ودرېدل). ۳. قرائت. ٤. رکوع.

۵. سجده. ٦. د التحیات لله په اندازه وروستۍ ناسته[۲].

---

۱ الفقه الاسلامي وادلته. ټوک۱، مخ:۶۲۹.

۲ الفقه الاسلامي، ټوک۱، مخ:۶۷۰.

## د لمانځه واجبات:

۱. د الله اکبر په لفظ د لمانځه پیل کول. ۲. سورت فاتحه لوستل. ۳. له سورت فاتحې وروسته د بل سورت لوستل.

۴. د فرضو په لومړیو دوه رکعاتو کې د سورت لوستل. ۵. پر سورت د فاتحې مخکې کول. ٦. په سجده کې د پوزې او تندي یوځای لګول. ۷. د لمانځه په افعالو کې د شرعي ترتیب لحاظ ساتل.

۸. د لمانځه ارکان په ډاډ او خشوع سره ادا کول. ۹. په درې رکعاتیز او څلور رکعاتیزو لمونځونو کې لومړۍ ناسته. ۱۰. په لومړۍ ناسته کې تشهد ویل. ۱۱. په دویمه یا وروستۍ ناسته کې تشهد (التحیات لله) ویل. ۱۲. په درې او څلور رکعاتیزو لمونځونو کې، لومړۍ ناسته له تشهد وروسته فوراً پاڅېدل. ۱۳. د لمانځه په پای کې د سلام لفظ ویل. ۱٤. د سهار، ماښام او ماسختن د لمونځونو په لومړیو دوو رکعاتونو کې د امام لپاره قرائت په زوره لوستل، همدا راز د جمعې، تراویح، اخترونو، استسقاء (باران غوښتلو) او د رمضان د میاشتې په وترو کې به هم امام قرائت په زوره وایي.

۱۵. د ماسپښین او مازیګر په لمونځونو کې د امام او ځانته لمونځ کوونکو لپاره قرائت په پټه لوستل. ۱٦. د وترو په لمانځه کې دعا قنوت لوستل. ۱۷. د اخترونو په لمونځونو کې د تکبیرونو ویل.

۱۸. مقتدي لپاره چوپ ودرېدل او د جمعې په لمانځه کې د امام تابعداري کول[۱].

۱ الفقه الاسلامي وادلته، مخونه: ۷۷۱-۷۷۵.



## د لمانځه سنتونه

### ۱. قولي سنت:

(سبحانک اللهم) ویل، اعوذبالله ویل، بسم الله ویل، د امام لپاره د سهار، ماښام او ماسختن د لمونځونو په لومړیو دوه رکعاتو کې په جهر سره قرائت ویل، د (رَبَّنَا لَکَ الْحَمْد) نه وروسته د (حَمْدًا کَثِيرًا طَيِّبًا مُبَارَکًا فِيهِ[۱]) ویل، په رکوع او سجده کې د یو ځل نه زیات تسبیحات ویل او د دوو سجدو په منځ (جلسه) کې د (رب اغفرلي) دعا ویل قولي سنت دي، نورې دعاګانې هم شته.

**فعلي سنت:**

- د قیام په حالت کې د ښي لاس ایښودل پر کیڼ لاس.
- د سجدې ځای ته کتل.
- د قیام په حالت کې د قدمونو یا پښو سره بېلول.
- په سجده کې له اړخونو څخه متې بېلول یا لرې ساتل او د ګېډې بېلول له ورنونو څخه او د ورنونو بېلول له متو څخه.
- په سجده کې د اوږو برابر د لاسونو ایښودل، په داسې حال کې چې ګوتې به یې سره یوځای وي.
- د دوو سجدو په منځ کې او همدا راز په قعده (ناسته) کې د کیڼې پښې اوارول او د ښۍ پښې ودرول.
- د دوو سجدو په منځ کې په ورنونو باندې د لاسونو ایښودل.

۱ مسند أحمد ط الرسالة (۱۹/ ۹۱).

## سجده سهوه

که څوک په سهوې سره په لمانځه کې، غیر د خپل ځای نه یو روا عمل وکړي، لکه په سجده کې د قرآن کریم تلاوت یا نور...، نو د هغه لپاره سجده سهوه کول لازم ده.

او په پرېښودلو د یو سنت سره سجده سهوه کول، روا دي.

کله چې؛ رکوع، سجده، قیام، لومړی قاعده (تشهد) او یا د لمانځه په هر رکن کې چې کمی یا زیاتی راشي، نو سجده سهوه پرې واجب ده.

سنت طریقه یې دا ده، چې د لمانځه پای ته د رسېدو نه وروسته او له سلام څخه مخکې به د لمانځه د سجدې په څېر دوه سجدې کوي[۱].

امام محمد بن علي بن محمد الشوکاني رحمه الله په (نیل الاوطار) کې د سجده سهوې په اړه د بېلابېلو مذهبونو طریقې او د هغوی دلایل ذکر کړي: ابن العربي د عائشې رضی الله عنها حدیث ته پام دا طریقه نېکمرغه او هدایت ته رسېدلې طریقه ښودلې، هغه دا، که په لمونځ کې نقصان وي، نو له سلام څخه مخکې به دوه سجدې کوي او که لمونځ کې ترې زیادت شوی وي، نو بیا به له سلام څخه وروسته دوه سجدې کوي[۲].

---

۱ زاد الانام پښتو شرح د بلوغ المرام، شرح: الشیخ صفی الرحمن مبارکپوري، مخ:۳۱۱.

۲ نیل الاوطا، ټوک:۳، مخ: ۱۱۷.



## د وتر لمونځ

د وتر لمونځ وخت د ماسخوتن له لمانځه څخه نیولې تر سبا د راختلو پورې دی.

د مومنانو مور عائشة رضی الله عنها وایي: ((رسول الله صلی الله علیه وسلم به وترو درې رکعاته کول، په لومړي رکعات کې به یې سورت الاعلی، په دویم رکعت کې سورت الکافرون او په درېیم رکعت کې به یې سورت اخلاص او معوذتین لوستل.[۱]))

او د ابن عباس رضی الله عنه په روایت کې یوازې د سورت اخلاص ویل، درېیم رکعت کې راغلي[۲].

او طریقه یې دا ده، چې د وترو په وروستي رکعت کې، له رکوع نه مخکې کله چې قرائت خلاص کړي[۳]، نو دعا یې قنوت به وایي:

(اللّٰهُمَّ إِنَّا نَسْتَعِينُكَ وَنَسْتَغْفِرُكَ، وَنُؤْمِنُ بِكَ ونتوكل عليك وَنُثْنِي عَلَيْكَ الْخَيْرَ، وَنَشْكُرُكَ وَلَا نَكْفُرُكَ وَنَخْلَعُ وَنَتْرُكُ مَنْ يَفْجُرُكَ، اللّٰهُمَّ إِيَّاكَ نَعْبُدُ، وَلَكَ نُصَلِّي، وَنَسْجُدُ، وَإِلَيْكَ نَسْعَى وَنَحْفِدُ، وَنَرْجُو رَحْمَتَكَ، وَنَخْشَى عَذَابَكَ، إِنَّ عَذَابَكَ بِالْكُفَّارِ مُلْحِقٌ[٤])

---

۱ رواه ابوداود (۱۴۲۴) و ابن ماجه (۱۱۷۳) والترمذی (۴۲۳) وحسنه و کذا صححه الالباني

۲ رواه الترمذی (ټوک: ۲، مخ: ۳۲۲) والنسائی (ټوک:۲، مخ: ۲۳۲) وابن ماجه (۱۱۸۲).

۳ رواه البخاري (ټوک:۲، مخ: ۲۸۶) والنسائی (ټوک: ۱، مخ:۲۴۸) و ابن ماجه (۱۱۸۲) و کذا صححه الالبانی.

۴ مصنف ابن أبي شيبة (۲/ ۹۵) غاية الأماني في الرد على النبهاني (۲/ ۳۷۳)، والطحاوي، و قال الالباني فی ارواء الغلیل (۱۷۹/۲)، وهذا اسناد صحیح.

یا به دا دعا: (اَللّٰهُمَّ اهْدِنِیْ فِیْمَنْ هَدَیْتَ وَعَافِنِیْ فِیْمَنْ عَافَیْتَ وَتَوَلَّنِیْ فِیْمَنْ تَوَلَّیْتَ وَبَارِكْ لِیْ فِیمَا أَعْطَیْتَ وَقِنِیْ شَرَّ مَا قَضَیْتَ اِنَّكَ تَقْضِیْ وَلاَ یُقْضیٰ عَلَیْكَ وَاِنَّهُ لاَ یَذِلُّ مَنْ وَّالَیْتَ وَلاَ یَعِزُّ مَنْ عَادَیْتَ تَبَارَکْتَ رَبَّنَا وَتَعَالَیْتَ.[۱]) ووایي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم به د وترو د لمانځه وروسته درې ځلې (سُبْحَانَ الْمَلِكِ الْقُدُّوسِ) ویل، په درېیم ځل به یې غږ پورته کاوه او په لوړ غږ به یې ویل: (رَبُّ الْمَلاَئِکَةِ وَالرُّوحِ).[۲]

**سنت لمونځونه:**

رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: چا چې د دولس رکعاتو سنتو پابندي وکړه، الله تعالی به د هغه لپاره په جنت کې کور جوړ کړي[۳]: دوه رکعاته د سهار له لمانځه څخه مخکې، څلور رکعاته د ماسپښین له لمانځه څخه مخکې او دوه ترې وروسته، دوه رکعاته د ماښام له لمانځه څخه وروسته او دوه رکعاته د ماسخوتن له لمانځه څخه وروسته او له وترو څخه مخکې.

یادونه: دوه رکعاته د ماښام له لمانځه مخکې او د نورو نفلي لمونځونو ثبوت هم شته دی.

**ممنوعه وختونه:**

په ممنوعه وختونو کې د نفلي لمونځ کول منع دي او دا درې وخته دي:

۱. د سبا له راختلو څخه نیولې تر لمر راختلو پورې، پرته له دوه رکعاتو سنتو څخه.

---

۱. سنن أبي داود-ن-(۱ / ۵۳۲)

۲. حصن المسلم(۷۰)

۳ رواه الترمذی(۴۱۴) والنسائی(ټوک:۳، مخ:۲۲۰) و ابن ماجه(۱۱۴۰). و صححه الالباني.



۲. کله چې لمر د اسمان منځ ته ورسېږي، تر هغې پکې لمونځ نه کېږي، چې زایله شوی نه وي.

۳. د مازیگر له لمانځه څخه وروسته، تر د لمر پرېوتو پورې.

او هغه لمونځونه، چې لامل لري، په دې وخت کې روا دي، لکه: تحیة المسجد لمونځ، د طواف دوه رکعاته، د سهار سنت، د جنازې لمونځ، له اودس کولو نه وروسته دوه رکعاته لمونځ، د تلاوت او شکر سجده.

## د تهجد لمونځ

(وَمِنَ ٱلَّيْلِ فَتَهَجَّدْ بِهِۦ نَافِلَةً لَّكَ﴿۷۹﴾ سورة الاسراء)

له ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: ((د فرض لمانځه وروسته غوره لمونځ د شپې یانې تهجد لمونځ دی.))

د تهجدو په شمېر کې بېلابېل روایتونه شته: د زید بن خالد او ابن عباس رضی الله عنهم په حدیث کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د تهجدو او د رکعاتونو شمېر دیارلس (۱۳) ښودل شوی، چې درې د هغې نه وتر ښودل شوي دي.

او د عائشې رضی الله عنها په حدیث کې یوولس (۱۱) راغلي، چې درې د هغې نه وتر ښودل شوي.

ابن قدامه حنبلي رحمه الله د روایاتو تطبیق ته په پام سره وایي: کېدای شي، چې یوه شپه یې دیارلس او په بله شپه یې یوولس رکعاته کړې وي[۱].

---

۱ الفقه الاسلامي وادلته، ټوک:۲، مخ:۸۱.

## د جنازې د لمانځه طریقه

د نورو لمونځونو په څېر د جنازې لمانځه لپاره هم اودس ضروري عمل دی. قبلې لور ته مخامخ ودرېدل او صفونه برابرول ضروري خبره ده.

کوم الفاظ، چې د نیت لپاره خلکو کې دود دي، دا شرعاً ثابت نه دي، بلکې له ځانه جوړ شوي دي، نیت د زړه عمل دی، په زړه کې نیت کول بسنه کوي، په ژبه د نیت ویل په شریعت کې نشته.

لومړی به تکبیر تحریمه یانې الله اکبر ووایې، بیا به سورت الفاتحه (الحمدلله) ولولې.

طلحه بن عبیدالله رضی الله عنه وایې:((عبدالله بن عباس رضی الله عنهما د جنازې لمونځ وکړ، د جنازې په لمانځه کې یې سورت فاتحه په جهر سره ولوسته، بیا یې د لمانځه وروسته وویل: دا مې د دې لپاره په جهر وویله، چې تاسې پرې پوه شئ، چې دا سنت ده.[۱]))

له سورت فاتحې سره به د قرآن کریم څه برخه هم لولې.[۲]

بیا به الله اکبر وایې. له الله اکبر څخه وروسته به درود لولې:

(اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَعَلٰی اٰلِ مُحَمَّدٍ کَمَا صَلَّیْتَ عَلٰی اِبْرَاهِیْمَ وَعَلٰی اٰلِ اِبْرَاهِیْمَ اِنَّکَ حَمِیْدٌ مَّجِیْدٌ. اَللّٰهُمَّ بَارِکْ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَعَلٰی اٰلِ مُحَمَّدٍ کَمَا بَارَکْتَ عَلٰی اِبْرَاهِیْمَ وَعَلٰی اٰلِ اِبْرَاهِیْمَ اِنَّکَ حَمِیْدٌ مَّجِیْدٌ.)

بیا به درېیم ځل الله اکبر ووایې.

---

۱صحیح البخاري

۲ سنن نسائي



له تکبیر څخه وروسته به دغه مسنونې دعاګانې ولولې:(أللّٰهم ! غفِر لِحَیِّنا وَمَیِّتِنا وَشاهِدِنا وَغَآئِبِنَا وَصَغِیْرِنا وکَبِیْرِنا وذَکَرِنا وأُنْثَانا، أ للّٰهُمّ مَن أ حْیَیْتَه مِنا فأَ حْیِه علی ا لإِسْلام، وَمَن تَوَفَّیتَه مِنّا فَتوَفَّه عَلی الإِ یْمَانِ.[۱])

بیا به څلورم ځل الله اکبر ووایې.

او په دې الفاظو (اَلسَّلَامُ عَلَیْکُمْ وَرَحْمَةُ الله) به سلام وګرځوې.

له سلام وروسته به صفونه مات کړي، مړی به په شرعي طریقه قبر ته ورښکته کړي او قبر ته د ورښکته کېدو یانې د مړي د سپارلو پرمهال به دا دعا:(بِسْمِ اللّٰهِ وَعَلَی سُنَّةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْـــهِ وَسَـــلَّمَ) ووایې.[۲]

د ماشوم په جنازه کې به له درېیم تکبیر څخه وروسته دا دعا وایې:(أللهمّ اجعَلهُ لَنا فَرطًا وَاجعَلهُ لَنَا فَرطًا، أللهُمّ اجعَلهُ لَنَا أجراً وَذُخراً أ للهُم اجعَلهُ لَنَا شَافِعًا وَمُشَفَّعًا) یا دا دعا:(اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ لَنَا فَرَطًا وَسَلَفًا وَأَجْرًا.[۳])

## د صلاة التسبیح دعا

سُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلاَ اِلَهَ اِلاَّ اللّٰهُ وَاللّٰهُ أَکْبَرُ.

**ګته او یادونه**: عبدالله بن عباس رضی الله عنه نه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم عباس بن عبدالمطلب ته وویل: ای عباس ای تره! ایا زه تاته عطیه در نه کړم، ایا زه تاته ډالۍ درنه کړم، ایا زه تاته ونه ښایم، ایا زه پر تا لس خصلتونه (کارونه) ونه کړم؟ چې که ته هغه اختیار کړې، نو الله تعالی به ستا ګناهونه مخکینې،

---

۱ رواه احمد (۴۱۲/۵) والنسائی(۱۰۹۲۳) والترمذی(۱۰۲۴) وقال حدیث: حسن صحیح

۲ سنن أبي داود (۳/ ۲۱۴).

۳ صحیح البخاري(۲/ ۸۹).

وروستني، پخواني او نوي، سهواً او قصداً، کوچني او غټ، پټ او ښکاره (ټول گناهونه) وبښي، (هغه دا دي) چې ته څلور رکعته لمونځ په داسې طريقه وکړې، چې په هر رکعت کې سورت فاتحه او يو سورت ولولې، کله چې په لومړي رکعت کې د قرائت نه فارغ شې او ته ولاړ يې، نو پينځلس ځلې به دا تسبيح ووايې: (سُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلاَ إِلٰهَ إِلاَّ اللّٰهُ وَاللّٰهُ أَكْبَرُ)، بيا به رکوع وکړې، په هغې کې به يې لس ځلې ووايې، بيا به د رکوع نه سر پورته کړې (سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ) نه وروسته په ولاړه کې به لس ځلې ووايې، بيا به سجدې ته لاړ شې او په سجده کې به لس ځلې ووايې، بيا به سجدې نه سر پورته کړې (د دوو سجدو منځ کې) به يې لس ځلې ووايې، بيا به سجده وکړې او په سجده کې به يې لس ځلې ووايې، بيا به سر پورته کړې، په جلسه د استراحت کې به يې لس ځلې ووايې، نو دا په هر رکعت کې پينځه اويا ځلې شو، دغه شان کار به په څلورو رکعتونو کې کوې.

که ستا طاقت وي، چې دا لمونځ هره ورځ يو ځل وکړې، نو ويې کړه او که هره ورځ يې نه شې کولای، په هره اونۍ کې يې يو ځل کوه او که په هره جمعه کې يې نه شې کولای، په هره مياشت کې يې يو ځل کوه او که په هره مياشت کې يې نه شې کولای، په هر کال کې يې يو ځل کوه او که په هر کال کې يې نه شې کولای، نو په ټول عمر کې يې يو ځل (خو ضرور) وکړه.[1]

۱. الحق الصريح ۵جلد ۳۷۴مخ.



# د استخارې لمونځ

**د استخارې دعا:** اَللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْتَخِيرُكَ بِعِلْمِكَ وَأَسْتَقْدِرُكَ بِقُدْرَتِكَ وَأَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ الْعَظِيمِ فَإِنَّكَ تَقْدِرُ وَلَا أَقْدِرُ وَتَعْلَمُ وَلَا أَعْلَمُ وَأَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوبِ اللّٰهُمَّ إِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هٰذَا الْأَمْرَ خَيْرٌ لِي فِي دِينِي وَمَعَاشِي وَعَاقِبَةِ أَمْرِي أَوْ قَالَ عَاجِلِ أَمْرِي وَآجِلِهِ فَاقْدُرْهُ لِي وَيَسِّرْهُ لِي ثُمَّ بَارِكْ لِي فِيهِ وَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هٰذَا الْأَمْرَ شَرٌّ لِي فِي دِينِي وَمَعَاشِي وَعَاقِبَةِ أَمْرِي أَوْ قَالَ فِي عَاجِلِ أَمْرِي وَآجِلِهِ فَاصْرِفْهُ عَنِّي وَاصْرِفْنِي عَنْهُ وَاقْدُرْ لِي الْخَيْرَ حَيْثُ كَانَ ثُمَّ أَرْضِنِي بِهِ.[1]

**گټه:** د استخارې دعا به رسول الله صلى الله عليه وسلم خپلو صحابه کرامو ته په ډېر تاکيد سره ښودله؛ لکه څرنگه به يې چې د قرآنکريم يو سورت دوی ته ښوده او دا به يې ويل: کله چې يو کس په تاسو کې د يو کار اراده وکړي، که هغه ددنيا کار وي او که ددين وي، نو دوه رکعته لمونځ دې وکړي او بيا دې دا دعا ولولي.

# قرآني دعاگانې

قرآن دعاگانې زده کړئ او د ژوند په ټولو چارو کې د انبياء کرامو د لارې د پلويانو په څېر الله تعالى نه پر قرآني دعاگانو مرسته وغواړئ، ځينې يې په دې ډول دي:

۱. (رَبِّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ أَنْ أَسْأَلَكَ مَا لَيْسَ لِي بِهِ عِلْمٌ وَإِلاَّ تَغْفِرْ لِي وَتَرْحَمْنِي أَكُن مِّنَ الْخَاسِرِينَ﴿۴۷﴾ سورت هود)

۲. (رَّبِّ اغْفِرْ لِي وَلِوَالِدَيَّ وَلِمَن دَخَلَ بَيْتِيَ مُؤْمِناً وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَلاَ تَزِدِ الظَّالِمِينَ إِلاَّ تَبَاراً﴿۲۸﴾ سورت نوح)

۳. (رَبِّ اجْعَلْنِي مُقِيمَ الصَّلاَةِ وَمِن ذُرِّيَّتِي رَبَّنَا وَتَقَبَّلْ دُعَاءِ﴿۴۰﴾

۱. صحيح البخاري.

٤. (رَبَّنَا ٱغْفِرْ لِي وَلِوَالِدَيَّ وَلِلْمُؤْمِنِينَ يَوْمَ يَقُومُ ٱلْحِسَابُ﴿٤١﴾ سورت ابراهيم) **د ابراهيم عليه السلام دعا.**

٥. (رَبِّ هَبْ لِي حُكْماً وَأَلْحِقْنِي بِٱلصَّالِحِينَ﴿٨٣﴾ وَٱجْعَل لِّي لِسَانَ صِدْقٍ فِي ٱلآخِرِينَ﴿٨٤﴾وَٱجْعَلْنِي مِن وَرَثَةِ جَنَّةِ ٱلنَّعِيمِ﴿٨٥﴾وَٱغْفِرْ لأَبِيۤ إِنَّهُ كَانَ مِنَ ٱلضَّآلِّينَ﴿٨٦﴾وَلاَ تُخْزِنِي يَوْمَ يُبْعَثُونَ﴿٨٧﴾

٦. (رَبِّ هَبْ لِي مِنَ ٱلصَّالِحِينَ﴿١٠٠﴾ سورت الصافات)

٧. (رَّبَّنَا عَلَيْكَ تَوَكَّلْنَا وَإِلَيْكَ أَنَبْنَا وَإِلَيْكَ ٱلْمَصِيرُ﴿٤﴾ سورت الممتحنة)

٨. (رَبَّنَا لاَ تَجْعَلْنَا فِتْنَةً لِّلَّذِينَ كَفَرُواْ وَٱغْفِرْ لَنَا رَبَّنَآ إِنَّكَ أَنتَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ﴿٥﴾ سورت الممتحنة)

٩. (رَبِّ أَوْزِعْنِيۤ أَنْ أَشْكُرَ نِعْمَتَكَ ٱلَّتِيۤ أَنْعَمْتَ عَلَيَّ وَعَلَىٰ وَالِدَيَّ وَأَنْ أَعْمَلَ صَالِحاً تَرْضَاهُ وَأَدْخِلْنِي بِرَحْمَتِكَ فِي عِبَادِكَ ٱلصَّالِحِينَ﴿١٩﴾)

**١٠. د ژبې د غوټو لرې کولو لپاره د موسی علیه السلام دعا:**
(رَبِّ ٱشْرَحْ لِي صَدْرِي﴿٢٥﴾وَيَسِّرْ لِيۤ أَمْرِي﴿٢٦﴾وَٱحْلُلْ عُقْدَةً مِّن لِّسَانِي﴿٢٧﴾يَفْقَهُواْ قَوْلِي﴿٢٨﴾سورت طه)

١١. **د موسی علیه السلام دعا:** (رَبِّ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي فَٱغْفِرْ لِي﴿١٦﴾سورت القصص)

١٢. (رَبَّنَآ آمَنَّا بِمَآ أَنزَلْتَ وَٱتَّبَعْنَا ٱلرَّسُولَ فَٱكْتُبْنَا مَعَ ٱلشَّاهِدِينَ﴿٥٣﴾

١٣. (رَبَّنَا لاَ تَجْعَلْنَا فِتْنَةً لِّلْقَوْمِ ٱلظَّالِمِينَ﴿٨٥﴾ وَنَجِّنَا بِرَحْمَتِكَ مِنَ ٱلْقَوْمِ ٱلْكَافِرِينَ﴿٨٦﴾ سورت یونس)

١٤. (رَبَّنَا ٱغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَإِسْرَافَنَا فِيۤ أَمْرِنَا وَثَبِّتْ أَقْدَامَنَا وٱنْصُرْنَا عَلَى ٱلْقَوْمِ ٱلْكَافِرِينَ﴿١٤٧﴾ سورت آل عمران)

١٥. **د موسی او یوشع بن نون علیهم السلام دعا:**(رَبَّنَآ آتِنَا مِن لَّدُنكَ رَحْمَةً وَهَيِّئْ لَنَا مِنْ أَمْرِنَا رَشَداً﴿١٠﴾ سورت الکهف)



١٦. **د علم زیاتوني لپاره د رسول الله صلی الله علیه وسلم دعا:** (رَّبِّ زِدْنِي عِلْماً﴿١١٤﴾ سورت طه)

١٧. (رَّبِّ أَعُوذُ بِكَ مِنْ هَمَزَاتِ ٱلشَّيَاطِينِ﴿٩٧﴾وَأَعُوذُ بِكَ رَبِّ أَن يَحْضُرُونِ﴿٩٨﴾ سورت المؤمنون)

١٨. (رَّبِّ ٱغْفِرْ وَٱرْحَمْ وَأَنتَ خَيْرُ ٱلرَّاحِمِينَ﴿١١٨﴾ سورت المؤمنون)

١٩. (رَبَّنَآ آتِنَا فِي ٱلدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي ٱلآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ﴿٢٠١﴾

٢٠. (سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيْكَ ٱلْمَصِيرُ﴿٢٨٥﴾ سورت البقرة)

٢١. (رَبَّنَا لاَ تُؤَاخِذْنَا إِن نَّسِينَآ أَوْ أَخْطَأْنَا رَبَّنَا وَلاَ تَحْمِلْ عَلَيْنَآ إِصْراً كَمَا حَمَلْتَهُ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِنَا رَبَّنَا وَلاَ تُحَمِّلْنَا مَا لاَ طَاقَةَ لَنَا بِهِ وَٱعْفُ عَنَّا وَٱغْفِرْ لَنَا وَٱرْحَمْنَآ أَنتَ مَوْلاَنَا فَٱنْصُرْنَا عَلَى ٱلْقَوْمِ ٱلْكَافِرِينَ﴿٢٨٦﴾

٢٢. (رَبَّنَا لاَ تُزِغْ قُلُوبَنَا بَعْدَ إِذْ هَدَيْتَنَا وَهَبْ لَنَا مِن لَّدُنْكَ رَحْمَةً إِنَّكَ أَنْتَ ٱلْوَهَّابُ﴿٨﴾ سورت آل عمران)

٢٣. (رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هَٰذا بَاطِلاً سُبْحَانَكَ فَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ﴿١٩١﴾رَبَّنَآ إِنَّكَ مَن تُدْخِلِ ٱلنَّارَ فَقَدْ أَخْزَيْتَهُ وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ أَنْصَارٍ﴿١٩٢﴾رَّبَّنَآ إِنَّنَآ سَمِعْنَا مُنَادِياً يُنَادِي لِلإِيمَانِ أَنْ آمِنُواْ بِرَبِّكُمْ فَآمَنَّا رَبَّنَا فَٱغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَكَفِّرْ عَنَّا سَيِّئَاتِنَا وَتَوَفَّنَا مَعَ ٱلأَبْرَارِ﴿١٩٣﴾رَبَّنَا وَآتِنَا مَا وَعَدتَّنَا عَلَىٰ رُسُلِكَ وَلاَ تُخْزِنَا يَوْمَ ٱلْقِيَامَةِ إِنَّكَ لاَ تُخْلِفُ ٱلْمِيعَادَ﴿١٩٤﴾ )

٢٤. (رَبَّنَآ آمَنَّا فَٱغْفِرْ لَنَا وَٱرْحَمْنَا وَأَنتَ خَيْرُ ٱلرَّاحِمِينَ﴿١٠٩﴾

٢٥. (رَبَّنَا ٱصْرِفْ عَنَّا عَذَابَ جَهَنَّمَ إِنَّ عَذَابَهَا كَانَ غَرَاماً﴿٦٥﴾إِنَّهَا سَآءَتْ مُسْتَقَرّاً وَمُقَاماً﴿٦٦﴾)

٢٦. (رَبَّنَا هَبْ لَنَا مِنْ أَزْوَاجِنَا وَذُرِّيَّاتِنَا قُرَّةَ أَعْيُنٍ وَٱجْعَلْنَا لِلْمُتَّقِينَ إِمَاماً﴿٧٤﴾ سورت الفرقان)

٢٧. **د سلیمان علیه السلام دعا:** (رَبِّ أَوْزِعْنِيۤ أَنْ أَشْكُرَ نِعْمَتَكَ ٱلَّتِيۤ أَنْعَمْتَ عَلَيَّ وَعَلَىٰ وَالِدَيَّ وَأَنْ أَعْمَلَ صَالِحاً تَرْضَاهُ وَأَصْلِحْ لِي فِي ذُرِّيَّتِيۤ إِنِّي تُبْتُ إِلَيْكَ وَإِنِّي مِنَ ٱلْمُسْلِمِينَ﴿١٥﴾ سورت الاحقاف)

۲۸. ﴿رَبَّنَا ٱغْفِرْ لَنَا وَلِإِخْوَانِنَا ٱلَّذِينَ سَبَقُونَا بِٱلْإِيمَانِ وَلَا تَجْعَلْ فِي قُلُوبِنَا غِلًّا لِّلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ رَبَّنَآ إِنَّكَ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ﴿۱۰﴾ سورت الحشر﴾

۲۹. ﴿رَبَّنَآ أَتْمِمْ لَنَا نُورَنَا وَٱغْفِرْ لَنَآ إِنَّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ﴿۸﴾

۳۰. ﴿رَبَّنَآ إِنَّنَآ ءَامَنَّا فَٱغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ﴿۱۶﴾﴾

۳۱. **د مکي مکرمې لپاره د ابراهيم عليه السلام دعا:**﴿رَبِّ ٱجْعَلْ هَٰذَا ٱلْبَلَدَ ءَامِنًا وَٱجْنُبْنِي وَبَنِيَّ أَن نَّعْبُدَ ٱلْأَصْنَامَ﴿۳۵﴾ سورت ابراهيم﴾

۳۲. ﴿رَبَّنَآ ءَامَنَّا فَٱكْتُبْنَا مَعَ ٱلشَّٰهِدِينَ﴿۸۳﴾ سورت المائدة﴾

۳۳. **مدين ته د سفر پرمهال د موسی عليه السلام دعا:** ﴿رَبِّ إِنِّي لِمَآ أَنزَلْتَ إِلَيَّ مِنْ خَيْرٍ فَقِيرٌ﴿۲٤﴾ سورت القصص﴾

۳٤. ﴿رَبِّ ٱنصُرْنِي عَلَى ٱلْقَوْمِ ٱلْمُفْسِدِينَ﴿۳۰﴾ سورت العنكبوت﴾

۳۵. ﴿رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا مَعَ ٱلْقَوْمِ ٱلظَّٰلِمِينَ﴿٤۷﴾ سورت الاعراف﴾

۳٦. ﴿رَبِّ نَجِّنِي مِنَ ٱلْقَوْمِ ٱلظَّٰلِمِينَ﴿۲۱﴾ سورت القصص﴾

۳۷. **د موسی عليه السلام دعا، کله چې د فرعون لښکرې ورپسې وې او د لارې په تاکنه کې شکمن و:** ﴿عَسَىٰ رَبِّيٓ أَن يَهْدِيَنِي سَوَآءَ ٱلسَّبِيلِ﴿۲۲﴾﴾

۳۸. **ايوب عليه السلام پر ناروغۍ اخته و، د ناروغۍ نه د خلاصون لپاره يې الله تعالی ته دعا وکړه، قرآن کريم يې حکايت داسې کوي:**﴿وَأَيُّوبَ إِذْ نَادَىٰ رَبَّهُۥٓ أَنِّي مَسَّنِيَ ٱلضُّرُّ وَأَنتَ أَرْحَمُ ٱلرَّٰحِمِينَ﴿۸۳﴾ سورة الانبياء﴾

۳۹. **د اولاد غوښتنې لپاره د زکريا عليه السلام دعا:** ﴿رَبِّ هَبْ لِي مِن لَّدُنكَ ذُرِّيَّةً طَيِّبَةً إِنَّكَ سَمِيعُ ٱلدُّعَآءِ﴿۳۸﴾ سورة آل عمران﴾

٤۰. **د سليمان عليه السلام دعا:** ﴿رَبِّ ٱغْفِرْ لِي وَهَبْ لِي مُلْكًا لَّا يَنۢبَغِي لِأَحَدٍ مِّنۢ بَعْدِيٓ إِنَّكَ أَنتَ ٱلْوَهَّابُ﴿۳۵﴾ سورة ص﴾



# اسماء الحسنى

**اسلامي عالمان وايي: اسماء الحسنى شرعي وسيله ده، بنايي د هرې ستونزې او اړتيا پر مهال د اسماء الله الحسنى په وسيله له الله تعالى نه مرسته وغوښتل شي.**

**رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي:**

(إِنَّ لِلَّهِ تِسْعَةً وَتِسْعِينَ اسْمًا مِائَةً إِلَّا وَاحِدًا، مَنْ أَحْصَاهَا دَخَلَ الجَنَّةَ[۱])

**ژباړه: ((د الله تعالى يو کم سل نومونه دي، چا چې دا ياد کړل جنت ته به ننوځي.))**

("هُوَ اللَّهُ الَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ، الرَّحْمَنُ، الرَّحِيمُ، الْمَلِكُ، الْقُدُّوسُ، السَّلَامُ، الْمُؤْمِنُ، الْمُهَيْمِنُ، الْعَزِيزُ، الْجَبَّارُ، الْمُتَكَبِّرُ، الْخَالِقُ، الْبَارِئُ، الْمُصَوِّرُ، الْغَفَّارُ، الْقَهَّارُ، الْوَهَّابُ، الرَّزَّاقُ، الْفَتَّاحُ، الْعَلِيمُ، الْقَابِضُ، الْبَاسِطُ، الْخَافِضُ، الرَّافِعُ، الْمُعِزُّ، الْمُذِلُّ، السَّمِيعُ، الْبَصِيرُ، الْحَكَمُ، الْعَدْلُ، اللَّطِيفُ، الْخَبِيرُ، الْحَلِيمُ، الْعَظِيمُ، الْغَفُورُ، الشَّكُورُ، الْعَلِيُّ، الْكَبِيرُ، الْحَفِيظُ، الْمُقِيتُ، الْحَسِيبُ، الْجَلِيلُ، الْكَرِيمُ، الرَّقِيبُ، الْمُجِيبُ، الْوَاسِعُ، الْحَكِيمُ، الْوَدُودُ، الْمَجِيدُ، الْبَاعِثُ، الشَّهِيدُ، الْحَقُّ، الْوَكِيلُ، الْقَوِيُّ، الْمَتِينُ، الْوَلِيُّ، الْحَمِيدُ، الْمُحْصِي، الْمُبْدِئُ، الْمُعِيدُ، الْمُحْيِي، الْمُمِيتُ، الْحَيُّ، الْقَيُّومُ، الْوَاجِدُ، الْمَاجِدُ، الْوَاحِدُ، الصَّمَدُ، الْقَادِرُ، الْمُقْتَدِرُ، الْمُقَدِّمُ، الْمُؤَخِّرُ، الْأَوَّلُ، الْآخِرُ، الظاهر، الباطن، الولي، الْمُتَعَالِي، الْبَرُّ، التَّوَّابُ، الْمُنْتَقِمُ، الْعَفُوُّ، الرَّءُوفُ، مَالِكُ الْمُلْكِ، ذُو الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ، الْمُقْسِطُ، الْجَامِعُ، الْغَنِيُّ، الْمُغْنِي، الْمَانِعُ، الضَّارُّ، النَّافِعُ، النُّورُ، الْهَادِي، الْبَدِيعُ، الْبَاقِي، الْوَارِثُ، الرَّشِيدُ، الصَّبُورُ".[۲])

۱ صحيح البخاري (۳ / ۱۹۸)

۲ تفسير ابن كثير ت سلامة (۸ / ۸۱).

# اسم اعظم

**اسماء بنت یزید بن السکن رضی الله عنها وايي:**

**له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه مې واورېدل، ویل یې: په دې دواړو اياتونو کې (ٱللَّهُ لَآ إِلَـٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلْحَىُّ ٱلْقَيُّومُ...﴿٢٥٥﴾سورة البقرة) او (الٓمٓ﴿١﴾ٱللَّهُ لَآ إِلَـٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلْحَىُّ ٱلْقَيُّومُ﴿٢﴾ سورة آل عمران) کې د الله اسم اعظم دی[1].**

**د ابی امامة په روایت حدیث کې راغلي: د الله هغه اسم اعظم چې دعا پرې وکړای شي قبلېږي، په درېو سورتونو کې دی:**

**د سورة البقرې(ٱللَّهُ لَآ إِلَـٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلْحَىُّ ٱلْقَيُّومُ...﴿٢٥٥﴾) د آل عمران سورة (الٓمٓ﴿١﴾ٱللَّهُ لَآ إِلَـٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلْحَىُّ ٱلْقَيُّومُ﴿٢﴾)او د سورة طه (وَعَنَتِ ٱلْوُجُوهُ لِلْحَىِّ ٱلْقَيُّومِ﴿١١١﴾) ایتونو کې دی.**

## پای

راځئ ملګرو زموږ په دې شانه پانه تولنه کې ، کتاب
لوستل عام کړو تر څو مو آینده نسل آزاد ، ارام او سوکاله
ژوند ولري .!

په درنښت | آریان پښتو کتابتون

۱ مختصر ابن کثیر، ټوک:۱ ، مخ:۲۰۹.



## لیکلړ

موضوع ........ مخ
د ایمان ارکان ........ ۱
د اسلام ارکان ........ ۲
احسان ........ ۳
اودس ........ ٤
غسل او د غسل فرضونه ........ ۹
د تیمم مسایل ........ ۱۰
اذان او اقامت ........ ۱۳
د لمانځه طریقه ........ ۱۵
د لمانځه اسانه او روانه ژباړه ........ ۲٤
سجده سهوه ........ ۳۱
د وتر لمونځ ........ ۳۲
سنت لمونځونه: ........ ۳۳
د تهجد لمونځ ........ ۳٤
د جنازې د لمانځه طریقه ........ ۳۵
د صلاة التسبیح دعا ........ ۳٦
د استخارې لمونځ ........ ۳۸
قرآني دعاګانې ........ ۳۸
اسماء الحسنی ........ ٤۲
اسم اعظم ........ ٤۱

آریان پښتو کتابتون
2022
+971501455350
ARYAN PASHTO LIBRARY